# امریکه کښې
# "وړومبے باچاخان امن کانفرنس"

ترجمه: احسان الله

په نیویارک کښې په ۱۲ اپریل د خالي په شپه باچاخان امن کانفرنس سر ته ورسېد. په دې کانفرنس کښې د دې خبرې حمایت وکړے شو چې د ټولو تنازعو حل دې د جنوبي ایشیا عظیم سیاسي فلسفي مسلمان رهنما باچا خان د امن او عدم تشدد فلسفې په رڼا کښې ولټولے شي. دې یو ورځني کانفرنس ته د اې این پي مرکزي صدر اسفندیار ولي خان، د پښتونخوا صوبائي صدر افراسیاب خټک، د پېښور یونیورسټي پاکستان سټډي سنټر ایسوسي ایټ پروفېسر ډاکټر فضل الرحیم مروت، د پښتو ژبې نامتو دانشور او شاعر راج ولي شاه خټک خطاب وکړو. دې نه علاوه د افغانستان نه نامتو صحافي عبدالواحد مشواني، د باچاخان ایجوکېشن فاؤنډېشن له طرفه ډاکټر منیر خان او ډاکټر سلیم اپریدي هم کانفرنس ته خطاب وکړو. د هندوستان نه مشهور تاریخ دان او د مهاتما ګاندي نمسي راجموهن ګاندي هم کانفرنس ته خطاب وکړو.



په کانفرنس کښې درې قراردادونه وړاندې کړے شو چې پکښې وړومبے د صوبه سرحد نوم بحالول، پښتو ژبې کښې درس و تدریس تر اتم جماعت پورې او هم دغې جماعت پورې پښتو مضمون لازمي ګرځول او تر دولسم جماعت پورې دې پښتو مضمون اختیاري په ټول پاکستان کښې وګرځولے شي چې د پښتنو نه علاوه پاکستان کښې نور خلق هم د پښتنو د تاریخ، ثقافت او نورو ډېرو څیزونو نه خبر شي. دې سره به په پاکستان کښې د مختلفو قومونو تر مینځه اتحاد او اتفاق پېدا شي.

دا کانفرنس په دوو برخو مشتمل وهٔ. د وړومبۍ برخې صدارت په امریکه کښې د اې این پي صدر نواز خان او د دوېمې برخې صدارت د خېبر سوسائټي چئیرمېن بورډ آف ټرسټي ممبر ډاکټر رفیق جان وکړو. په کانفرنس کښې ګڼ شمېر پاکستانیانو، افغانانو او څۀ لږ ډېر هندوستانیانو هم ګډون وکړو. دغه کسان د امریکې لرې لرې سټېټونو لکه

فلوریډا، واشنګټن، ټیکساس، نیوجرسي او دغه رنګ نورو ځایونو نه راغلي وو.

د کانفرنس شروع د تلاوت کلام پاک نه وشوه. د تلاوت نه پس د اې این پي امریکې ونګ پخواني صدر جاوېد خان لالا دپاره د مغفرت دعا وکړې شوه کوم چې د پړپُوس په کېنسر کښې مبتلا ؤ او څو ورځې مخکښې وفات شوے ؤ. دعا نه پس د اې این پي مرکزي صدر اسفندیار ولي خان په ټیلي فون خپل تقریر کښې خپل نیکۀ باچاخان ته چې د خدائي خدمتګار تحریک باني ؤ، خراج تحسین وړاندې کړو. دې نه پس ئې د پاکستان مخلوط حکومت ته چې کومې مسئلې دي په هغې باندې نظر واچولو.

اسفندیار ولي خان ووې چې باچاخان په ټوله دنیا کښې د عدم تشدد د فلسفې په وجه پېژندے شي او د شلمې پېړۍ د یو لوئے امن خوښونکي لکه Martin Luther King، ګاندي جي او نیلسن منډیلا سره شمېرلے کېږي. هغۀ ووې چې باچاخان د شلمې پېړۍ داسې سیاسي لیډر ؤ کوم چې د خپل ژوند ډېر عمر د قېدوبند مصیبتونو کښې تېر کړے وۀ.

اسفندیار ولي خان ووې چې باچاخان په پښتنو کښې په سیاسي او معاشرتي توګه د عدم تشدد د فلسفې خورولو کوشش کړے وۀ او دغه فلسفه زمونږ دپاره یوه تاریخي ورثه ده او نن د دغې فلسفې د هغه وخت نه زیات پښتنو ته ضرورت دے او د دې فلسفې په ذریعه په ټوله دنیا کښې د تشدد مسئلې حل کېدے شي.

د پاکستان نوي مخلوط حکومت ته د راپېښو مسئلو باره کښې اسفندیار ولي خان ووې چې د دغې مسئلې حل د تشدد په ذریعه نۀ بلکې د عدم تشدد په ذریعه کېدے شي. هغۀ ووې چې کۀ د پاکستان حکومت دغه شرپسندو سره د جرګو په ذریعه مذاکرات وکړل نو په قبائلي سیمو کښې به امن راشي. اسفندیار ولي خان دا خبره رد کړه چې مونږ به شرپسند او دهشتګردو سره براه راست مذاکرات نۀ کوو بلکې د دغې قبائلي سیمې مشرانو سره رابطه به د پښتونخوا د حکومت په توسط کوو چې په دې سیمه کښې امن و امان قائم کړي.

اسفندیار ولي خان ووې چې مونږ دپاره وړومبے آپشن مذاکرات دي او بیا کۀ ونۀ شوه نو اخري آپشن مونږ سره د فوځ استعمالول دي، هغۀ ووې چې کۀ تېرو پنځلسو یا شلو ورځو راسې وکتلې شي نو په دغه سیمه کښې تشدد کم شوے دے او د اې این پي حکومت به دا کوشش وي چې دا نور هم کم کړي. هغۀ ووې چې د هغه وخت نه نن پښتو ته د باچاخان د عدم تشدد د فلسفې ډېر ضرورت دے او پښتانۀ نۀ دهشتګرد او نۀ شرخوښې دي بلکې دوي ترقي خوښې او جمهوریت خوښونکي دي.


د ګاندي جي نمسے راجموهن ګاندهي

اسفندیار ولي خان د ټولو پښتنو ماشومانو دپاره انټرنېشنل کمیونټي ته خواست وکړو چې د خدائے دپاره زما بچي له د ټوپک په

ځائے قلم ورکړئ، هغۀ لـه د وئيلو دپـاره کتـاب ورکړئ، زما بچي لـه د ټوپـک د ګـولۍ پـه ځـائے لاس کښې قلم ورکړئ چې هغه پرې ليکل وکړي او زدکړه وکړي. زما بچي لـه د خودکش جېکټ پـه ځائے د سکول يونيفارم ورکړئ پـه کوم کښې چې هغه سکول ته لاړ شي او ښۀ زده کړي. دوي زمونږ دپـاره قيمتـي ورثـه ده د کـومې دپـاره چې مـونږ کوشش کوو چې هغه حاصل کړو.

اسفنديار ولي خان ووې چې تر کومې د پاکستان او افغانستان د مشترکې جرګې اعلان نۀ وي کـړے نـو د دوي ترمېنځـه اختلافـات نـۀ شـي ختمېدلے.

د عـوامي نېشـنل پـارټۍ د پښـتونخوا صوبې صدر افراسياب خټک پـه خپل تقرير کښې باچاخـان او ولـي خـان تـه خراج تحسـين وړانـدې کړو. په خپل تقرير کښې صوبائي صدر ووې چې ولي خان سياست د عدم تشدد د فلسفې پـه بنياد کـړے وۀ، د هغـۀ د سياست اصـل مقصد دا ؤ چې حق نه محروم کړو شوو عوامو تـه خپـل جمهوري حق ورکړي. هغۀ ووې چې ١٨ فـروري اليکشـن نـه پښتنو دا خبره ثابته کړه چې دوي نۀ دهشت ګرد او نۀ شرخوښي دي بلکې دوي خو ترقي خوښي او جمهوريت خوښي دي خو د تاريخ مختلفو دورونو کښې دوي محرومه پرېښودل شوي دي.

خټک صيب ووې چې اې اين پي هم پـه دې خبره يقيـن لري چې پـه قبـائلي سيمو کښـې د تشدد مسئله په خبرو اترو حل کېدے شي. د دې دپـاره کۀ د دغـو سيمو مشرانو سره خبرې اترې وکـړے شـي او د دغـې ځـائے د عوامـو دپـاره د کاروبار مواقع پېدا کړے شي او تعليم عـام کړے شي نو دا د تشدد مسئله به ډېره زر حل کړے شي.

ډاکټـر فضـل الـرحيم مـروت پـه خپـل ټېليفونک تقرير کښې د پښـتنو د وروستو پـاتې کېدو وجوهـاتو بانـدې رڼا واچولـه. هغـۀ پـه خپـل تقريـر کښـې د پاکسـتان تېـر شـوي حکومتونـو د پښتنو دپاره او خاصکر قبائلي سيمو بـاره کښې پاليسۍ باندې نکته چيني وکړه. هغۀ ووې چې پښـتانۀ دهشـت ګـرد نـۀ دي او د مظلومـو عوامـو وينـه تويـول د پښـتنو د روايـاتو خـلاف دي. هغـۀ ووې چې د باچاخان د عدم تشدد پـه فلسفه عمل کول اوس د پښتنو دپاره اخري امېد دے، کومې سره چې په دې سيمه کښې امن راوستے شي. هغۀ انټرنېشـنل کميـونټۍ تـه خواسـت وکـړو چـې د پښـتنو بـاره کښـې د څۀ وئيلو نـه مخکښې دې د پښتنو تاريخ وګوري نو دوي ته به پتـه ولګي چې پښتانۀ څنګه خلق دي.

د پښـتو ژبـې دانشـور ډاکټـر راج ولـي خټـک پـه خپـل تقريـر کښـې د يـو غېرجانبـدار کمېشـن جوړولو مطالبه وکړه چې دا معلوم کړي چې هغه څۀ وجوهات دي د کومې پـه وجه چې دا شرخوښي زيـات شو، دې نـه عـلاوه دا هم معلوم کړي چې دغه انتها پسندو ته پېسه څوک ورکوي؟ د هندوسـتان نـه راجمـوهن ګانـدي د خپلې ښځې اوشا ګاندي او لُور سره راغلے وۀ، هغۀ په خپل اهم تقريـر کښـې باچاخـان تـه خـراج تحسـين وړانـدې کړو، دې سره سره ئې باچاخان يو عقلمند او تېز سياسـتدان، کټـر قـوم پرست او صـحيح مسـلمان وګرځولو. راجموهن ګاندي ووې چې باچاخان د

عـدم تشـدد فلسـفه د قـرآن پـاک د لفـظ صـبر نـه راویسـتي ده، هغـهٔ د دغـې ورځې نـه مخکښـې د شـوي خپـل تقريـر ذکـر وکـړو کـوم چې يـوه ورځ وړانـدې پـه پيراهـاؤس نيويـارک کښـې د مهاتماګاندي نه پس منډيلا او د دغه رنګ نورو اهمو شخصيتونو په ياد کښې آرګنائز شوے ؤ. د د دغې تقريب په تقرير کښې د هغې د آرګنائزرز نه ګيله وکړه چې تاسو يو اهم شخصيت باچاخان هېر کړے وۀ.

راجموهن ګاندي ووې چې ګاندي جي او باچاخان دواړه د حق تلفئ او نا انصافئ خلاف وو. د باچاخان خدائي خدمتګار تحريک په ټوله دنيا ډېر ښۀ اثر پرېښے دے. د نورو مقررينو په رنګ راجموهن ګاندي هم په دې خبره زور ورکړو چې د باچاخان د فلسفې د وړاندې نه اوس ډېر ضرورت دے او د نن د ټولو مسئلو حل دې د عدم تشدد په فلسفه کښې وکتلے شي.

اخـره کښـې د کشـمير پـه مسـئله د صحافيانو د يو سوال د جواب ورکولو په وخت راجموهن ګاندي ووې چې د دې دواړو ملکونو تر مينځه دا يوه غټه مسئله ده او دغه مسئله د عدم تشدد د فلسفې په ذريعه حل کېدے شي.

د افغانستان نامتو صحافي عبدالواحد مشـواني پـه خپـل تقريـر کښـې پـه دې خبـره زور واچولو چې پښتانۀ محنت کـوونکي، بهـادر او ديانتـدار قـوم دے. د باچاخان دا کوشش ؤ چې پښتنه معاشره په جمهوري توګه آرګنائز کړي دوي له تعليم ورکړي او دوي په سياسي توګه طاقتور کړي.

ډاکټـر منيـر خـان چـې د باچاخـان ايجوکېشن فاؤنډېشن سره تعلق لري هغۀ په خپل تقرير کښې د باچاخان ايجوکېشن فاؤنډېشن په مقاصدو رڼا واچوله. هغـهٔ ووې چې د باچاخان ايجوکېشـن فاؤنډېشـن کوشـش دے چـې پښتونخوا کښې تعليم عام کړي ځکه چې دا صوبه په تعليم کښې ډېره وروستو ده. هغۀ حاضرينو ته خواسـت وکـړو چـې د باچاخـان ايجوکېشـن فاؤنډېشن چنده کښې حصه واخلي چې په صوبه کښې د سکولونو تعداد زيات کړے شي او دغې سره په صوبه کښې يوه خپله يونيورسټي جوړه کړي.

د دغې کسانو نه علاوه کانفرنس ته په امريکه کښې ميشته د پاکستان پيپلز پارټئ، پاکستان مسلم ليګ نون، د پاکستان فريډم فارم نمائندګانو او د پاکستان او افغانستان مختلفو کميونټيز سره تعلق لرونکو کانفرنس ته خطاب وکړو. خطاب کوونکو باچاخان ته خراج تحسين وړاندې کړو او ټولې دنيا ته ئې خواست وکړو چې د دنيا هر يو ګوټ کښې امن پېدا کولو دپاره دې د باچاخان د عدم تشدد په فلسفه عمل وکړے شي.

د کانفرنس دوران کښې د پښتو ژبې سندرغاړي خيال محمد او ماه جبين قزلباش په خپلو خوږو اوازونو حاضرين ونمانځل. دا پروګرام سحر دوه نيمې بجې سرته ورسېدو.



خيال محمد او مه جبين قزلباش